# د سولې په هکله د افغانانو خبرې (د خلکو ډیالوګ)



د خلکو ډیالوک ــ د افغانستان په لودیدیځ کی دله ییزه مباحثه، د ۲۰۱۱ کال اکتوبر

# د سولې د یوې عام شموله پروسې بنسټ ایښودنه

**د ۲۰۱۱ کال دسمبر**

Civil Society & Human Rights Network (CSHRN)

**فهرست**

I. زمینه: د سولی د عام شموله پروسی بنسټ ایښودنه ........................................................................1
II. د سولی تر لاسه کولو لپاه اساسی اصول........................................................................2
یوه پراخه پروسی ته وده ورکول: د عادی افغانانو شاملول........................................................................2
د افغانانو تر مشری لاندی یوه پروسی او ملی یووالی ته وده ورکول ........................................................................2
III. د تل پاتی سولی اجزاوی........................................................................3
۱) د امنیت ټینګښت ........................................................................4
۲) د فساد، بی عدالتی او د قانون د واکمنی د نشتوالی له منځه وړلو ته اړتیا........................................................................5
۳) رېښتنی اقتصادی پرمختګ او ټولنیز عدالت ........................................................................7
۴) د بشری حقونو ملاتر او ترویج ........................................................................9
IV. څنګه کولای شو چې سوله او بیا پخلاینه تر لاسه کړو........................................................................10
اړتیا ده چې مخالفین او طالبان د سولی په ټینګیدولو کې شامل شی........................................................................10
اړتیا ده چې عام افغانان د سولی په پروسه کې شامل شي........................................................................11
اړتیا ده چې ښځې د سولی په پروسه کې شامل شی او د ښځو د حقونو ساتنه وشی ........................................................................12
V. پایلی او د خلکو وړاندیزونه........................................................................14
د افغانستان اسلامی جمهوری دولت ته ........................................................................14
نړیوالی ټولنی ته ........................................................................15
مسلح مخالفینو ته........................................................................16
د افغانستان مدنی ټولنی ته........................................................................16

## I. زمینه: د سولی د عام شموله پروسی بنسټ ایښودنه

د سولی په هکله د افغانانو خبری ( د خلکو دیالوک) هغه نوښت دی، چی له امله یی عادی افغانان کولای شی د پراخه بحثونو له لاری د سولی، بیا پخلاینی، امنیت، اقتصادی پرمختګ، بشری حقونو او د قانون د واکمنی په اړه خپل نظر څرګند کړی. د مدنی ټولنی دیارلس شبکی/سازمانونه[1] او د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون د عام بحث نظارت دنده په غاړه اخستی وه چی د برخه والو څرګندونی یی راټولی کړی کومو ته چی دوی "د ټولنی، دولت او نړیوالی ټولنی تر منځ تشه" ویله.

د خلکو دیالوګ موخه د سولی او بیا پخلاینی پروسی په هکله د افغانانو تر منځ د پوهی کچی لوړوالی، او د دی ډاډ ترلاسه کول دی چی د دوی ریښتینی شکایتونه، اندیښنی او امیدونه اوریدل کیږی او د پالیسی جوړونکو له خوا په ټولو پروسو او پلانونو کی شاملیږی تر څو په افغانستان کی تل پاتی سوله راشی.

په راتلونکی کی د سولی د هری پروسی په پوره ملاتړ سره د خلکو دیالوګ غواړی چی په لویه کچه د افغانانو د ګډون او د امکان تر حده په پراخه کچه د هغوی د نظرونو د شاملو څخه ډاډه شی. د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر د میاشتی پر مهال ۷۸ ځانګړو ګروپونو په ۳۱ ولایتونو[2] کی بحث تر سره کړ، چی په دی کی د ۱۵۰۰ څخه ډیر افغان نارینه وو، ښځو[3] او ځوانانو ګډون درلود. په دغه غونډو کی د مختلف توکمونو او د ژوندانه د ټولو شعبو څخه افغان نارینه وو او ښځی لکه ملکی مامورین، کرونده ګر، تجاران، د مدنی ټولنو استازی په شمول د ښځو سازمانونو، د ځوانانو د اتحادیو استازو، معیوبینو، د علماء او ښځو شوراګانو، دینی علماو، قبایلی او ټولنیز استازو، د کاله میرمنو، ښوونکو، د لیسو او پوهنتون شاګردانو او محصلینو، د طب مسلکی افرادو، مزدورانو، مدنی فعالینو، ژورنالستانو، د جګړی څخه زیانمن شوو کسانو، هنرمندانو او پخوانیو جنګیالیو چی د سولی او بیا پخلاییني پروګرام سره یو ځای شوی وو، ګډون کړی وو.

دا راپور د هغو مسالو او اندیښنو لنډیز دی چی د ۱۵۰۰ نه ډیر افغان نارینه او ښځو د خلکو دیالوګ پر مهال رابرسیره کړی وی. د دی راپور له لاری مدنی ټولنه د افغانستان په هکله د افغانانو غږ او نظر د جرمنی په بُن نړیوال کنفرانس (د ۲۰۱۱ کال د دسمبر ۵) کی رسوی او هڅه کوی د دی ډاډ ورکړی چی د عادی افغانانو غږ اوریدل کیږی او د افغانستان د اینده سولی او ثبات په اړوند اساسی ستونځو ته په بن کی تصمیم نیونکی پاملرنه کوی.

په دی راپور کی یواځی د هغو افغان نارینه وو، ښځو او ځوانانو څرګندونی په ډاګه شوی، چی د خلکو دیالوګ کی ونډه اخستی وه.

---

[1] د خلکو د خبرواترو د رهبری کمیټی لاربښود: غړی ـ د افغان مدنی ټولنی فورم (ASCF)، افغان مدنی ټولنه او د بشری حقونو شبکه (ACSHRN)، د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسون، د افغان کارګرانو ملی ټولنه، د افغانستان د بشری حقونو او چاپیریال ساتنی اداره، د افغان ښځو شبکه، د افغان ښځو د مهارتونو د ودی مرکز، د افغان ځوانانو د اجتماعی، کلتوری او پرمختایی اداره، د انتقالی عدالت د همغږی ګروپ، د آرمان شهر اداره، د ښځو د سیاسی ونډی اخستنی کمیټه او ۵۰ ٪ کمپاین، د رهبری کمیټی په سیمو او ولایتونو کې خپل دفترونه کارولی ترڅو خبری اتری پکښی ترسره شی، یوناما مرسته کړی ترڅو دغه خبری اتری ترسره شی او د رهبری کمیټی ملاتړ یی کړی.

[2] دیالوګ په بامیانو، بغلان، بدخشان، دایکندی، فاریاب، فراه، غزنی، غور، هرات، جوزجان، کابل، کاپیسا، کندوز، کندهار، خوست، کنړ، لغمان، لوګر، مزارشریف، ننګرهار، نیمروز، نورستان ( ګډونکونکو ننګرهار ته راغلی)، پنجشیر، پکتیکا، پکتیا، سرپل، سمنګان، تخار، اروزګان او زابل کی ترسره شوی دي.

[3] د ۵۰۰ څخه ډیرو ښځو د ټول هیواد په دیالوګ او بحثونو کی ونډه اخستلی وه .

## II. د سولې تر لاسه کولو لپاه اساسي اصول

### یوې پراخه پروسې ته وده ورکول: د عادي افغانانو شاملول

**"هیڅ څوک هم خلکو ته غوږ نه نیسي، زمونږ غږ نه اوري"**

د هیواد په کچه افغانانو د خلکو دیالوګ د ابتکار په ستایلو سره وویل چې د لومړي ځل لپاره د سولې، ثبات او د افغانستان د راتلونکې په هکله له دوی څخه پوښتنه کیږي. په مکرره توګه یو نظر څرګند شو چې د سولې د ټینګښت په هکله خلک په سمه توګه خبر شوي نه دي او نه هم په داسې نوښت کې راګډ شوي دي. د اورزګان څخه یوکروندګر ویل:

"داچې حکومت یو داسې میکانیزم ندی چمتو کړی چې د سولې په پروسه کې خلک شامل کړي او د هغوی ملاتړ تر لاسه کړي."

ګڼ شمیر خلکو دا تبصره درلودله چې ګوندي مدني ټولنې ته د سولې په پروسه کې د ونډې اخیستنې لپاره لږ فرصت ورکړل شوی او ځینې ډلې، په ځانګړي توګه ښځې او ځوانان، تر یو ډیره بریده د دې پروسې نه ایستل شوي. د زابل ولایت څخه یو تن زده کونکي خپل نظر داسې په ډاګه کړ. دغه نظر د هیواد په نورو سیمو کې هم راڅرګند شوی.

"حکومت باید په خپله رویه کې بدلون راولي او د سلا مشورو په پروګرامونو کې ملکي ټولنو څخه دعوت وشي ; د سولې په هکله ټول کوښښونه دي د خلکو د غوښتنو سره سم پلان کړي .[...] په عمومي ډول هر افغان د سولې او ثبات په راتګ کې بنسټیز رول لوبولی شي لیکن هیڅ څوک هم موږ او زمونږ نظر په پام کې نه نیسي. ځینې خلک له بهر څخه د سولې او ثبات د راتګ په هکله خپلې طرحې تحمیلوي په داسې حال کې چې دوی د لیرې پرتو سیمو اوسیدونکو د ژوندانه د حال نه خبر ندي."

د لوګر ولایت ګډون وال د ټولنې د یو غړي د دې څرګندونوسره موافق شول "د حکومت او خلکو تر منځ لوی واټن وجود لري، زموږ رهبران موږ ته نږدې کیدل نه غواړي; او په داسې حالت کې بیا د سولې په اړه فکر هم نشو کولای." ډیر شمیر خلکو په هیواد کې د داسې نظر څرګندونه وکړه.

نږدې په ټولو مباحثو کې نارینه او ښځو د سولې په ټینګښت کې د رول لوبولو په اړه د خبرو پخلې وکړ. د بیلګې په ډول په نیمروز ولایت کې خلکو ویل چې دوی لیواله دي چې د مدني ټولنې د غړو، ځوانانو، ښوونکو او یا دعام افغانانو په څیر په هیواد کې د سولې په ټینګښت کې خپل رول ولوبوي. څرنګه چې یو ښوونکي داسې وویل: "د ټولنې ملاتړ د حکومت لپاره ستر ځواک دی."

ځینو خلکو په ځانګړي توګه یادونه وکړه چې د "بن کنفرانس" یوه مهمه پیښه ده. په لویدیځه سیمه کې، د بیلګې په ډول ډیر شمیر نارینه وو اوښځو په ډاګه کړه چې لومړنی بن کنفرانس د جنګ سالارانو او هغه کسانو ګټې راوړاندې کړي چې د بد امنې په رامنځ ته کولو کې ګرم دي. دوی وویل چې په دویم بن کنفرانس کې باید د خلکو نظر په پام کې ونیول شي نه د جنګ سالارانو.

دغه نظر چې"مدني ټولنه د حکومت او خلکو تر منځ د پل حثیت لري" د هیواد په ټولو برخو کې د بحث پر مهال واوریدل شو.

"موږ غواړو چې مدني ټولنه په راتلونکې بن کنفرانس کې زموږ غږ پورته کړي."
[د بادغیس ولایت د آبکمري ولسوالۍ استوګن]

### د افغانانو تر مشرۍ لاندې یوې پروسې او ملي یووالي ته وده ورکول

د ډیرو بحثونو پر مهال خلک په دې نظر ټینګ ولاړ وو چې د سولې پروسه کې دې افغانان مخ کښ رول ولري. د ا د یو حتمي او لومړي شرط په ډول نظر وو چې طالبان او نور دولت ضد وسلوالې ډلې دې د سولې خبرو کې شاملې شي.

ډیر شمیر خلک په دی نظر هم وو چی هری یوی پروسی کی باید اسلامی اصول منعکس شی او دغه د منځګړتوب بریالی رول یوازی د اسلامی ګډونوالو په لاس تر سره کیدای شی.

په کاپیسا ولایت کی د ټولنی غړو د نړیوالی ټولنی د مرستی غوښتنه وکړه چی په نه لاس وهنه یی هم ټینګار وکړ او وویل: " افغانستان یو خپلواکه هیواد دی او د سولی دا پروسه دی افغانان پر مخ بوځی." په درست هیواد کی دغه نظر په ښکاره ډول را څرګند شو.

د دی په نظر کی نیولو سره چی د سولی په هکله هره خبره د افغانستان د راتلونکی په اړه خبره ده، ډیر شمیر افغان نارنیه وو او ښځو وویل چی افغانستان دی نه هم زیاتی خپلواکی ته اړتیا لری. د بیلګی په ډول په لوګرولایت کی خلکو په ټینګار سره ویل:"افغانستان باید خپلواکه هیواد وی؛ موږ نه غواړو چی نړیواله ټولنه زموږ په هیواد کی په هرڅه واک ولری."

ملی یو والی او د سولی هری یوی داسی پروسی ته اړتیا چی یووالی ته وده ورکړی د ډیرو مباحثو پر مهال راولاړه شوه.

> "که موږ ریښتینی سوله لیدل غواړو نو یووالی ته اړتیا لرو; که موږ د یو ځانګړی ډلی ګټو ته پاملرنه وکړو نو موږ څه نه شو کولای."
>
> [د خوست ولایت څخه یو ښځینه غړی]

په ځینو سمیو کی ملی یو والی ته د لږکیو په حقونو پوری تړاو ورکړل شو. په دایکندی ولایت کی کروندګر، هټی وال، او د ښځینه شورا غړی پدی نظر راټول شول چی د وسلوالو مخالفینو سره د خبرو اترو په شمول د سولی په هره پروسه کی باید د افغانستان د ټولو توکمونو منافع په پام کی ونیول شی.

همدارنګه د نیمروز ولایت څخه ښوونکو او د ځوانانو د سازمان استازو وویل: "د جګړی په تیرو ۳۰ کلونو کی د لږکیو حقونه تر هرڅه لومړی متضرر شوی; دی ستونزی ته باید ډیره پاملرنه وکړو. دا د افغانستان د ډیرو وګړو لپاره ډیره مهمه ده."

## III. د تل پاتی سولی اجزاوی

د افغانستان په ټولو سیمو کی د ۷۸ مباحثو پر مهال افغان نارینه او ښځو چی د تل پاتی سولی د اساسی اجزاوو په بحثونو بوخت وو، وویل: د امنیت خرابیدونکی وضعیت، د عدالت او قانون د واکمنی نشتوالی، د اقتصادی پرمختګ نشتوالی، د دولتی مامورینو او د قانون پلی کونکو ادارو د چارواکو په منځ کی خپریدونکی فساد، د ښوونی او روغتیایی خدمتونو ټیټ کیفیت، په لوړه کچه بی روزګاری، تر محدوده بریده د بشر د حقونو او د ښځو د حقونو خوندی ساتنه او احترام، تبعیض ، د افغانستان په کورنیو چارو کی د بهرنیو هیوادونو او په ځانګړی توګه د ګاونډیو هیوادونو له خوا لاس وهنه، د افغانستان د کړکیچ او بی ثباتی د اوږدیدو عمده لاملونه دی.

د کندهار څخه د کور یوی میرمنی عمومی احساسات داسی څرګند کړل چی تقریباً د ټولو مباحثو پر مهال ورته اشاره شوی:

> "سوله د بی ګناه خلکو د وژنی او د هیواد منابعو څخه ناوړه ګټی اخستنی څخه عبارت نه ده. سوله عبارت دی له دی څخه چی اوږه په اوږه کار وکړو، ټول خلک یوځایی کار وکړی، ښځی د ښځو سره، .... پاکستان د افغانستان سره، خارجی او داخلی، ورونه او خویندی، او خپل هیواد جوړ کړو او د ښوونی، اقتصاد او روغتیا د پرمختګ لپاره ډیره هڅه وکړو."

د خلکو خبری ډیری پر دی متمرکزی وی چی د دوی په اند د شخړی عمده او اساسی لاملونه دی. د دی ستونځو د حل په موخه یو پلان د اینده سولی پروسی لپاره یو هدف تشکیلوی. څرنګه چی د کابل څخه یو ښونکی یادونه وکړه:

" په افغانستان کی جنگ د یومزمن ناروغی په څیر دی; که ډاکټر یی ناروغی تشخیص نه کړای شی نو تداوی به یی ستونځمنه وی. لومړی باید موږ اساسی لاملونه او ریښنی ومومو نو بیا یی حل لاری موندلی شو; پس له دی سوله راتلای شی."

د ټل پاتی سولی څلور بنسټیزی اجزاوی یا پایی چی د خلکو د دیالوګ پر مهال ټول افغان نارینه وو، ښځو، او ځوانانو په روښانه توګه څرګند کړی و په لاندی ډول دی: د امنیت ټینګښت؛ د فساد، بی عدالتی او د قانون د واکمنی د نشتوالی سره مبارزه، اقتصادی پرمختګ او ټولنیز عدالت ته عملی بڼه ورکول؛ او د ښځو د حقونو په شمول بشری حقونو ته وده ورکول او ساتل.

**۱) د امنیت ټینګښت**

" ټوله نړی افغانستان ته راغلی، خو بیا هم دوی امنیت ټینګ نه کړای شو."

[خبریال، ګردیز]

په ټولیزه توګه درست افغان نارینه وو او ښځو ـ د هیواد په ټولو برخو کی ـ هر یو چی خپل نظر یی د خلکو د ډیالوګ پر مهال شریک کړی دا ویلی او یا په دی موافق شوی چی د ۲۰۰۵ کال را په دی خوا هیواد کی امنیتی وضعیت تدریجاً خراب شوی. اوس مهال وضعیت ویرونکی او ورځ تر بله خرابیدونکی دی. په کندهار کی ښځو ویل کله چی خلک د کوره بیرون وځی "دوی ډاډمن نه وی چی ګوندی بیرته به ژوندی راستانه شی." په ډیرو سیمو کی خلکو ویل چی امنیتی وضعیت د تیر په پرتله بد تر شوی او د دولت واک یوازی د مرکزی ولسوالیو تر بریده محدود وی. ګڼ شمیر خلکو د هیواد په مختلفو سیمو کی د سولی د نړیوالی ورځ پر مهال د پخوانی جمهور رئیس او د سولی دعالی کمیسیون رئیس د برهان الدین ربانی په خپل کور کی وژنه د بیلګی په ډول یاده کړه چی د بد امنه وضعیت څرګنده ښکارندویی کوی. ډیری خلکو وویل که یو مهم نفر خوندی نه شی ساتلی نو بیا د دولت وړتیا ډیره روښانه نه ده چی عام خلک دی خوندی وساتی.

د مباحثو پر مهال ګڼ شمیر افغانانو په کراتو وویل چی دوی داسی احساس کوی چی د مخالفینو او د نړیوال او افغان امنیتی ځواکونو په منځ کی راګیر شوی دی. له یوی خوا مخالفین ملکی خلک په نښه کوی او خلک اعداموی او ټښتوی او له بل لوری نړیوال او افغان امنیتی ځواکونه په ناسم استخباراتو ولاړ داسی میتودونه کاروی چی افغانی کلتور او مذهب ته درناوی نه کیږی او د ملکی خلکو ساتنه په پام کی نه نیول کیږی (لکه هوایی بریدونه، د شپی لخوا چاپی، په لویه کچه نیول او خپل سری توقیفونه). ګڼ شمیر افغانانو دا هم ویلی چی تر څو عام خلک خپل ځانونه خوندی احساس نه کړی او د نظامی ځواکونو له خوا تهدید شی، نو بغاوت به ادامه ولری.

خلکو په نړیوالو ځواکونو غږ وکړ چی د شپی لخوا چاپی او خپل سری توقیف عملیات ودروی. د هیواد په کچه افغانانو په کلکه نظر ورکړ چی دغه لاری چاری د شخړی ډیریدو ته لمن وهی او بد امنی لا پسی نوره ډیریږی.

خلکو په یو اواز په مخالفو وسلوالو ډلو باندی غږ وکړ چی د ملکی خلکو، د استوګنی ځایونو، مذهبی ځایونو او روغتنونو په نښه کول ودروی. د بغلان ولایت د مباحثی ګډون والو نارینه وو او ښځو نظر بیا په ټول افغانستان کی د خبرو پر مهال راڅرګند او انعکاس وموندہ.

"زموږ توقعات د مخافو وسلوالو څخه دا دی چی د جنګ پر مهال دی ملکی خلکو ته زیان نه رسوی او جنګی قوانینو ته دی درناوی وکړی. د دی سره د دولت ضد وسلوالو نه امید لرو- که ریښتینی افغانان وی ـ نو د هیواد څخه بیرون دی قومانده نه اخلی او د سولی د رامنځ ته کیدو په موخه دی د افغانستان حکومت سره روغ جاړی ته ورسیږی. دوی باید وسله په ځمکه کیږدی او د خپل ویجاړ هیواد په بیا رغونه کی ونډه واخلی."

په هیواد کی په ټولیز ډول افغان نارینه وو او ښځو په کلکه ټینګار کړی چی د ګاونډیو هیوادونو ـ زیاتره پاکستان بلکه د ایران رول مستیقیما د شخړی په زیاتیدو کی مرسته کړی. دوی دا ومنله چی نړیواله ټولنه دی لا ډیر څه وکړی چی د ګاونډیو هیوادونو لاس وهنه په افغانستان کی بنده کړی او پاکستان په دی مجبور کړی چی د مخالفینو خوندی ځایونه وتړی او ملاتړیی ودروی. څنګه چی په فراه ولایت کی یو مشر و پوښتل "څرنګه دا ممکنه ده چی ۴۰ هیوادونه په

افغانستان کی کار کوی او د یو هیواد د کړنو مخنیوی کی پاتی راغلی؟" د افغانستان په ټولو برخو کی د ګڼ شمیر مباحثو پر مهال د دی وړاندیز وشو چی نړیواله ټولنه باید په پاکستان او په ځانګړی توګه پر استخباراتی اداری (ISI) زیات فشار واچوی چی په افغانستان کی خپله لاس وهنه ودروی.

نارینه وو او ښځو په افغانستان کی د مختلفو اجنډاو د کارولو په هکله ویناوی وکړی- چی د سولی او اقتصادی پرمختګ لپاره روښانه لیدلوری نه لری او دی ته فوری اړتیا لیدل کیږی. د خوست ولایت یوی ښځینه ښوونکی داسی ویل:

> "د افغانستان لپاره یو ډول ستراتیژی شتون نه لری; یواځی ګڼ شمیر هیوادونه د ګڼ شمیر نظرونو او اجنډاو سره دی. مونږ یو پلان او ټاکلو اهدافو ته اړتیا لرو."

په مکرر ډول افغانانو دا نظر څرګند کړ چی دولت او نړیواله ټولنه دی په ګډه کار وکړی چی د دوی او عادی خلکو ترمنځ واټن راکم کړی. خلکو وویل دا به د سولی په راتګ کی مرسته وکړی او هم به د ملکی خلکو د مخالفینو په لیکو کی د شاملیدو څخه مخنیوی وکړی.

**امنیتی جوړښتونو او ملی ظرفیت ته وده ورکول**

نږدی ټول افغان نارینه او ښځی چی د خلکو په دیالوګ کی یی ګډون درلود پدی نظر وو چی یو موثره ، باکفایته او واحدی افغان ملی امنیتی دستګاه ته دی وده ورکړل شی، دا یو مطلوب هدف دی او دا د اینده د سولی لید لوری، امنیت او اقتصادی خوشحالی لپاره ډیره اړینه ده. د حکومت بی کفایتی چی امنیتی ظرفیت لوړ کړی په نړیواله کچه فساد او بی کفایته مشرتابه [د امنیتی ادارو د لوړی کچی څخه تر ټیټی کچی پوری د فساد یا د زده کړی او سواد نشتوالی پوری تړاو لری ] ته منسوب شوی.

د امنیت موضوع یوازی د امنیتی ادارو په موثریت پوری منسوب نه دی. د بیلګی په ډول، د خبرو پر مهال سهیل ختیځه سیمه کی دا په ګوته شوه چی ۲۰۰۱ کال پر مهال په نسبی ډول امنیتی وضعیت ښه وه، پداسی حال کی چی ملی پولیس او ملی اردو هغه مهال پیاوړی نه وه. خلکو وویل اوس مهال وضعیت د پخوا څخه ډیر بد دی.

خلکو ومنله، په هر حال پیاوړی او غښتلی ملی امنیتی ظرفیت د ښه امنیت او سولی اړینه برخه ده. په یو شمیر سیمو کی د بیلګی په ډول په اروزګان کی امنیت کی یو څه ښه والی تر سترګو شوی; چی دا "امنیتی مشر تابه کی بدلون" ته منسوبیږی، له دی څخه دا څرګندیږی چی د امنیتی اداری په راس کی یو نفر کولای شی چی په سیمه کی امنیت او د قانون واکمنی اغیزمنه کړی. خلکو په مکرر ډول ویل چی د کمزوری امنیتی ادارو عمده لامل فاسده رهبری ده چی په پایله کی نا امنی او د قانون واکمنی نشتوالی رامنځ ته کیږی.

د نړیوالو د شتون په هکله ، ګڼ شمیر خلکو وویل چی روانه شخړه به هغه مهال پای ته ورسیږی چی بهرنی ځواکونه ووځی. د دی اندیښنو سره چی د هیواد په ځینو ځانګړو برخو کی د نړیوالو ځواکونو او مخالفینو تر منځ درندی نښتی رامنځ ته کیږی، د ملی امنیتی ځواکونو د ظرفیت په اړه شک پر ځای پاتی دی، ګوندی چی دوی به امنیت او ثبات په دایمنه توګه ټینګ کړای شی. یو شمیر ګډون والو وویل چی نړیواله ټولنه دی د ملی امنیتی ځواکونو روزنی ته ډیره پاملرنه وکړی.

په ۲۰۱۴ کال کی د نړیوالو ځواکونو د وتلو په هکله راز راز نظرونه تر سترګو شول. یو شمیر خلکو د خبرو پر مهال خپل نظر شریک کړ او دایی ومنله چی تر څو تل پاتی سوله نه وی ټینګه شوی تر هغه دی نړیواله ټولنه پاتی شی چی نظرونو سره توپیر درلود. ډیر شمیر ګډون والو د نړیوالو ځواکونو د وتلو غوښتنه وکړه، خو یو شمیر د ممکنه بدو پایلو په هکله بد بینه وو. د نورستان ولایت د پوهنی ریاست یو مامور ویل "تر ټولو اساسی عنصر چی د سولی مخنیوی کوی هغه د نړیوالو ځواکونو او نړیوالی ټولنی شتون دی. زه دا هم وایم که دوی ووځی دلته به خپل منځی جنګ وی". دی ته ورته نظرونه په درست هیواد کی څرګند شول.

**۲) د فساد، بی عدالتی او د قانون د واکمنی د نشتوالی له منځه وړلو ته اړتیا**

د قانون د واکمنی نشتوالی "د افغانی ټولنی سرطان دی"

(د کندز ولایت د شورا یو غړی)

بی عدالتی، د قانون د واکمنی نشتوالی او فساد – په ځانګړی توګه د قانون پلی کوونکو مسؤولینو په منځ کی یوه ګرمه موضوع وه چی د ټول هیواد په کچه څرګنده شوی. افغان ښځینه او نارینه تقریبا د نړی په کچه دا ومنله چی د حکومت په هره برخه کی زیاته کچه فساد یو له عواملو څخه دی چی ورځ تر ورځی خرابیدونکی امنیت او وضعیت سره مرسته کوی. په ځانګړی توګه د افغان امنیتی ځواکونو رهبری کی فساد، د سولی ساتلو برخه کی د یوی اصلی ستونوی په توګه څرکند شوی.

دهیواد په کچه، خلکو ویلی چی په فساد ککړ چارواکی دنړیوالو مرستو زیاته برخه تس نس کړی، شخصی ګټوته د ملی او ټولنیزو ګټو پرتله لمړیتوب ورکوی. خلکو وویل افغانستان سره د نړیوالو مرستو ونشو کړی خپلی موخی چی امینت راوستل، د ټولو ګټو خدمتونو وړاندی کول او پراختیا وه، ترلاسه کړی. زیاتو افغانانو ویلی چی عدالت د سولی د ابادولو خښته ده، که چیری عدالت تامین شی "د سولی نور عناصر خپله رامنځه کیږی ". د نیمروز ولایت د یو سپین ږیری نظر چی د هیواد په کچه د نورو ګډون والو له خوا هم بیان شوی:

> "عدالت د هری ټولنی لمړنی او یو مهم عنصر دی، که چیری مونږ وغواړو چی خپل هیواد کی سوله ولرو پکارده چی عدالت ولرو".

لویدیزو برخو کی خلکو تاکید کړی چی زیاته پیمانه فساد د حکومت په ټولو برخو کی بیوزلی زیاته کړی. د دی برخو نارینه وو او ښځو ویلی چی فساد یو له اصلی عواملو څخه دی چی په افغانستان کی د ښه حکومت داری، امنیت، پرمختیا او سیاسی ثبات مخنیوی کوی. د بادغیس ولایت اب کمری ولسوالی اوسیدونکی لاندنی نظری ورکړی چی دهیواد په کچه څرګند شوی:

> "مونږ په ریښتینی توګه دهیواد له روان حالت څخه ستومانه یو، هر څوک په فساد ککړ دی او خلکوته عدالت نشته. یو قاتل ازاد بازار کی ګرځی او قربانیان بیوسه پاتی دی. مونږ هیڅ نشو کولای. ښځی د محلی ټولنیزو صحرایی محکمو له خوا وژل کیږی او حکومت دی موضوع ته پاملرنه نه کوی".

د بدخشان په ولایت کی چی زیاتی لری پرتی ولسوالی لری، خلکو ویلی چی ګڼو ولسوالیو کی محکمه او څارنوالان نشته. د خپلو شخړو حل په موخه مجبور دی چی دشخړو دودیز میکانیزم ته مراجه وکړی. د قانون پلی کوونکو اداراتو او قضا کی د فساد لوړی کچی شتون تشویش د ډیر له خوا څرګند شوی چی د بغلان ولایت یوی ښځینه حقوقی خدمتونو وړاندی کوونکی په وینا کی خلاصه کیږی:

> "دقانون پلی کوونکی اداری (پولیس، څارنوالی، او محاکم) د دولت فاسد ترینه اداری دی. یو له دلایلو چی خلک د شخړو عنعنوی حل لارو ته مراجعه کوی، عدلی او قضای اداراتو په منځ کی د پراخه فساد شتون دی."

په جنوب کی، په افغانستان کی د قانون د واکمنی د نشتوالی په هلکه شکایتونه پراخه و؛ ځینی دا ستونزه د جنګ سره تړی او داسی وایی: "قضایی سیستم ډیر فاسده دی او قانون نه پلی کیږی. دغه موضوعات عام خلک متاثره کوی په ځانګړی توګه هغه خلک چی ولسوالیو کی ژوند کوی، ترجیح ورکوی چی خپلی قضیی طالبانو ته د عدالت لپاره یوسی."

یوی راستنی شوی ښځی په بامیانو کی وویل "د قانون پلی کیدل د فساد او رشوت پوری تړلی دی". د هغی په اند قانون د اړوند قانون پلی کیدونکو ادارو له لوری پلی شوی نه دی بلکی د ټول هیواد په کچه نقض شوی. خلکو وویل ترڅو چی یوتن رشوت ورنکړی یاهم قوی حمایت ونلری نشی کولای چی هیڅ ډول عدالت ترلاسه کړی.

همدارنګه قانون ته نه درناوی او د زور مندانو معافیت په زیاتو بحثونو کی ښودل شوی. نارینه و او ښځو په ټول هیواد کی ویلی چی قانون یواځی د کاغذ پرمخ شتون لری او شکایت کوی چی مشهوره جنایتکاران او جنګسالاران لاتر اوسه په مرکز او ولایاتو کی سیاسی ملاتړ لری. دغه حالت د افغانانو په اعتبار باندی منفی اغیزه لری. بیا هم دی نظر باندی تاکید کیږی چی دغه حالت د افغان حکومت او ولس تر منځ  موجوده فاصله لازیاتوی لکه څرنګه چی د ټولنی یوغړی په پنجشیر ولایت کی څرګنده کړه:

"په افغانستان کې د حکومت او ولس ترمنځ فاصله شته. حکومت د خلکو ستونزوته پاملرنه نه کوي، که چيرې رهبران خلکو ته پاملرنه ونکړي نو خلک به قانون ته احترام ونکړي."

دوی موافقه وکړه چې "حتی زمونږ قانون جوړوونکی قانون ماتوونکی دی" او ويې ويل "مونږ يو رښتينې اسلامي حکومت غواړو."

د فساد شتون او خويش خوري يوه د هرې ورځې موضوع ده. د ننگرهار ولايت د اچين ولسوالی د يو دهقان وينا او د بادغيس ولايت داوبو رسونې اداری کارگر يو عمومي تشويش بيان کړ:

"يو شخص بايد پيسې ورکړي ترڅو يوه وظيفه او مناسب معاش ترلاسه کړي. دولت کې ټول بستونه خرڅيږي. خلک د شايستگی پر بنسټ نه مقررکيږي."
(ننگرهار ولايت، بزگر)

" کله چې ښې وظيفې نالايقه کسانوته دروابطو اوفساد پربنسټ ورکول کيږي نو خلک له دې حالت څخه رنج وړي او د بې ثباتی، نارضايتی او د فساد ترويج باعث گرځي. فساد د ضعيفه حکومتداری عامل دی. دغه خلک نه مشرانو ته احترام کوي او نه هم قانون ته ".
(داوبو او برېښنا اداری کارمند، بغلان ولايت)

يوشمير ولايتونوکې خلکو تاکيد وکړ چې د بن راتلونکې کنفرانس بايد چې د فساد سره د مبارزی مسئلې ته پاملرنه وکړي، په ځانگړي توگه د قانون پلې کوونکي او قضايي چارواکو باندې تمرکز وکړي لکه څرنگه چې په جلال اباد ښار کې يوصراف تاکيد وکړ:

"که چيري د بن راتلونکی کنفرانس د تير کنفرانس په شان اوسي، مونږ يې نه غواړو! د افغانستان ټولې بدبختی له همغه ځايه راغلي.(...) که چيری فساد له منځه لاړنه شي او قانون تطبيق نه شي، نو سوله نشي راتللی."

### ۳) رېښتنې اقتصادی پرمختگ او ټولنيز عدالت

زياتو افغانانو دسولې، امنيت او پرمختگ ترمنځ اړيکو باندې تاکيد وکړ او ويې ويل که چيرې اقتصاد ښه اوسي نو کولای شي سوله حمايه کړي او پياوړی امنيت اقتصادی پرمختگونه قوي کوي. خلکو ټول هيواد کې تاکيد وکړ چې متوازن اقتصادی پرمختگ د افغانستان باثباته سولې لپاره يومهم ضرورت دی. بيوزلي، د جغرافيايي لحاظه ورو او غير متوازن پرمختگ، زياته کچه بيکاری، د منابعو نامناسبه تخصيص، او پراخه کچه فساد خدمت رسونه متاثره کړې او حکومت په دې نه دی توانيدلی چې په تيرو لسو کلونو کې يادو ستونزو ته رسيدگی وکړي. اکثر افغانان پدې عقيده وو چې باثباته سوله ترهغې نشي راتللی ترڅو چې د عامو خلکو اقتصادی حالت په هميشنی توگه ښه نشي. لکه چې د تخار ولايت څخه يو ښوونکی داسې وويل "نابرابري خپله د بې ثباتی يوعامل دی."

بلخ ولايت کې دولت سره يوځای شوی پخوانی طالب د پرمختگ او امنيت ترمنځ اړيکه داسې بيانوي:

"خواوشا دوه کلونو راهيسې زه طالبانو سره وم پرته له پاکستان د ملاتړ، ما د محل خلکو په ملاتړ هلته ژوند کاوه. پدې اخرو کې د افغانستان په چاروکې د پاکستان له مداخلې پوه شوم، په ځانگړي توگه د هغوی امر په هکله چې طالبانوته لارښوونه کوي چې مشران په نښه کړي نو ما پريکړه وکړه چې دولت سره يوځای شم. زما منطقه برق، اوبه او صحی کلينک نلري هيله لرم چې دولت مونږ سره مرسته وکړي او لازمه امکانات جوړ او زما خلکو ته پاملرنه وکړي."

ځينيو خلکو، په ځانگړي توگه په امن لرونکو سيموکې، د پرمختگونو په هکله ټول هيواد کې اشاره وکړه لکه د ښوونځيو، سړکونو، او روغتونونو چې ټول هيواد کې جوړ شوي. يوی ښځينه ښوونکی د فارياب ولايت څخه داسې وويل:

"دری لسيزو جگړو د افغانستان ټول بنسټيز جوړښتونه وران کړل، ولې خوشبختانه وروسته د طالبانو د رژيم نسکوريدو څخه، افغانانو يو حکومت رامنځته کړ، کوم چې د ملگروملتونو په ملاتړ دوهم ځلی د افغانستان ټول ټولنيز، سياسي، اقتصادی سيستم رامنځته کړ. تراوس مهاله، مونږ په هره برخه کې د پرمختگونو شاهدان يو. د

بیلګی په توګه، د یو مرکزی حکومت رامنځه کیدل، نوی اساسی قانون، د افغان ملی پولیسو او د افغان ملی اردو جوړول او د هغوی سمبالول په پرمخ تللو نظامی وسایلو او د هغوی روزنه د لویو لاسته راوړنو څخه دی. برسیره پر دی په زرګونو پلونه، سړکونه، صحی کلینکونه، او ښوونځی په افغانستان کی اباد شوی. د مخابراتو په برخه کی نن ورځ مونږ مختلفی مبایل تلفون کمپنی او انترنیت لرو چی د افغانستان تقریبا ټولو ښارونوکی شتون لری. د بیان آزادی په افغانستان کی یوه بله لویه لاسته راوړنه ده .... د دی په نتیجه کی شخصی تلویزیونی چینلونه او راډیویی ستیشنونه رامنځته شول، کوم چی د افغانستان ټولنی سره د معلوماتو د حق په ترلاسه کولو کی مرسته کوی."

د ګډونوالو اکثریت ځینو څرګند پرمختګونه په ښه کړل ولی دا لاسته راوړنی د هغه ملیاردونو ډالرو مرستو سره مساوی نه دی چی تیرو لسو کلونو کی په افغانستان کی مصرف شوی. نارینه وو او ښځو د ټول هیواد په کچه تاکید وکړ چی پرمختګونه دی یوازی د کمیت له مخی نه اندازه کیږی لکه د روغتونونو او ښوونځیو جوړیدل بلکی د کیفیت له لحاظه هم باید دا خدمات اندازه شی چی د رضایت د سطحی څخه په ټیټه کچه ترسره شوی.

د تخار ولایت خلکو ویل چی تیرو لسو کلونوکی زیات شمیر ښوونځی او روغتونونه جوړ شوی که څه هم د روغتیا او تعلیم حق ته لاس رسی شته ولی د مسلکی ښوونکو او ډاکترانو نه شتون د کیفیت له لحاظه دا حقونه متاثره کوی. همدارنګه د بامیانو ولایت مرکز بامیانو ښار کی خلکو ویل چی دوی یوازی یو روغتون لری چی د مسلکی ډاکترانو او دوا کمبود سره مخ دی چی دغه خدمات د کیفیت له لحاظه متاثره کوی.

د زیاتو بحثونو په دوران کی د ښارونو او کلیوالو سیمو د پراختیا په برخه کی یو تقسیمات هم راڅرګند شول. ګډونوالو پدی نظر تاکید وکړ چی اساسی خدماتوته لاس رسی په ځانګړی توګه کلیوالو سیموکی محدود دی نسبت دی ته چی د ښارونو پراختیا ته لومړیتوب ورکول شوی. ډیرو خلکو ویل چی مجموع کی حکومت د خلکو د ژوند د سطحی ښه والی په برخه کی کافی اندازه څه ندی کړی. یو نظرچی د ټول هیواد په کچه څرګندوی وو د بغلان ولایت یوی ښځینه نرسی داسی بیان کړ:

"حکومت باید چی روغتیایی خدمتونه ټول افغانانوته مساویانه توګه وړاندی کړی. د افغانستان په زیاتو کلیوکی خلک روغتیایی اساسی خدماتوته لاس رسی نه لری چی زیات شمیر کوچنیان او میندی خپل ژوند د لاسه ورکوی."

په ځینو سیمو کی د مثال په ډول په نورستان کی خلکو ویل چی د حکومت د محدود کنترول سره یو ځای په سیمه کی ناامنی د دی لامل شوی چی په دی ولایت کی پرمختیایی پروژی تطبیق نه شی او خدماتو ته د خلکو لاس رسی په سختی سره متاثره کړی. خلکو په ټینګار سره وویل چی دغه حالت نه یوازی بنسټیز حقونه متاثره کوی بلکه نارضایتی، د دولت او خلکو تر منځ واټن لا زیاتوی او د مخالفینو سره مرسته کوی چی خلک په اسانی سره په خپلو لیکو کی استخدام کړی.

یو دینی عالم په نورستان ولایت کی حالت داسی بیان کړ:

"نورستان کی هیڅ پرمختګ ندی شوی. سړکونه، بریښنا، تعلیم، او روغتیایی اسانتیاوی نشته. قانون واکمن نه دی. تعلیم نه شته او ۹۹ سلنه خلک بی سواده دی.

د نورستان ولایت د عالی لیسی ښوونکی داسی ور اضافه کړه: "مخالفینو زمونږ ماشومانو مغزونه پریمنځلی او دوی ته زده کړه ورکوی چی افغانستان کی جنګ صحیح دی."

همداشان د اورزګان په ولایت کی خلک د هغه حالت څخه چی ژوند یی په کی کاوه نا امیده وو، لکه د ولسوالی سره د نښلول شویو خرابو سړکونو له وجهی د دوی د محلی تولیداتو لپاره د مارکیټ نه شتون، د مناسبه روغتیایی خدماتو نه شتون، او ضعیفه تعلیمی نظام د ټیټی زده کړی ښوونکو په شمول. خلکو ویره وښودله چی داحالت دخلکو او حکومت ترمنځ شته واټن لازیاته وی. یاد نظر ټول د هیواد په کچه منعکس شوی وو په ځانګړی توګه هغه سیموکی چی جنګ وو او یا د حکومت حاکمیت کم وو.

ځینو خلکو یادښت وکړ چی حکومت پرمختیایی مرستی مساوی توګه د هیواد ټولو برخو ته تقسیم کړی ندی او په نامناسب ډول قومی ملحوظاتو له مخی ورکړل شوی. په ځانګړی توګه د بامیانو د ټولنی غړی پدی هلکه زیات حساس

وو. د بامیانو یو اوسیدونکی داسی وویل چی زیات رقم پیسی په ناامنه سیمو پرمختګ کی مصرف شوی چیرته چی مخالفین یی له منځه وړی، "پداسی حال کی چی بامیانوکی چیرته چه امنیت ښه دی هیڅ ندی شوی. ددی قوم پالنی موضوع پربنسټ بامیان خلک جلا شوی."

یوشمیر بحثونو په دوران کی خلکو د متوازنی پراختیا اړتیا په هلکه خبری وکړی.

نارینه او ښځو په ځینو ګروپی بحثونوکی وویل چی مرکزی او محلی اداری په مجموع کی غیر موثره دی او دخلکو ریښتینی اړتیا سره اړیکی نلری. ډیرو وویل په اداراتوکی فساد، واسطه (دخپلوانو پلوی کول) او جنګسالاری دهیواد په ځینو برخوکی د قانون حاکمیت او اقتصادی پرمختګ کمزوری کړی. ټول هیواد کی خلکو ګډه سره دفساد په وړاندی خفګان ښودلی کوم چی ددوی د بنسټیزو خدمتونو څخه مخنیوی کوی. لکه چی دننګرهار ولایت بهسودو ولسوالی یو مامور داسی څرګنده کړه:

"مونږ امنیت، تعلیم او متوازنو خدمتونو ته اړتیا لرو. کرهنی ته باید چی پراخیتا ورکړای شی. کوم مقدار پیسی چی حکومت ولسوالیو ته تخصیص ورکوی ټولو کورنیو ته نه ورکول کیږی بلکی محلی اداری له خوا ملکانوته انتقالیږی څوک چی بیا هغه خپل جیب کی اچوی."

دعامه خدمتونو مسؤلینو په منځ کی فساد د پرمختګونو د کموالی او د زیاتو افغانانو د فقر اصلی عامل په توګه ښودل شوی. دپلخمری ښار یو سپین ږیری هغه نظر چی ډیری خلکو سره وو داسی بیان کړ:

"د ملیاردونو ډالره مرستو سره چی افغانستان تیرو لسو کلونوکی ترلاسه کړی، تراوسه ۷۵٪ سلنه دافغانستان اوسیدونکی د فقر تر کرښی لاندی ژوند کوی او درضایت وړ بدلون د دوی په ژوند کی ندی لیدل شوی. هیواد کی یو ځانګړی شمیر افغانان چی دافغانستان حکومت کی لوړو چوکیو کی کارکوی یا کولو یی یا جنګسالاران او قاچاقبران وو د لوکس موټرو او بلډنګونو خاوندان شوی، دافغانستان دننه یا خارج کی."

ټول هیواد کی خلک په حکومت غږ کوی چی د فساد پرووړاندی مبارزه وکړی او هغه خلک چی په فساد ککړ دی باید سزا ورکړی شی. دوی همدا رنګه وویل چی نړیواله ټولنه باید اطمینان ترلاسه کړی چی ورکړل شوی پیسی په فساد ککړ دولتی چارواکو لاس ته نه ورځی. ټول هیواد کی افغانانو چی دخلکو خبرو کی ګډون درلود تایید کړه چی که چیری دعامو خلکو اقتصادی حالت ښه نشی نو هیواد کی همیشنی سوله نشی راتللی.

### ۴) د بشری حقونو ملاتړ او ترویج

د با ثباته او سوله ایز افغانستان له پاره د ټولو بشری حقونو ملاتړ او ترویج په شمول د ښځو حقونو او دښځو پر وړاندی د هر ډول توپیر او سرغړونو له منځه وړل په متواتره توګه د یو اساسی عنصر په توګه ښودل شوی. زیات شمیر خلکو د لږکیو(اقلیتونو) پرحقونو هم تاکید وکړ. افغانانو په متواتره توګه دافغانستان ټولو اتباعو بشری حقونو ملاتړ، ترویج او احترام ته اړتیا په ګوته کړه، په ځانګړی توګه د تعلیم حق، مناسب روغتیایی خدمات، کار او د شخصی امنیت حقونه یی اړین وګڼل.

په ټولیزه توګه ټول هیواد کی یو ذهنیت موجود وو چی د بشری حقونو په برخه کی پرمختګونه شوی په خاصه توګه دښځو حقونو په هکله پوهاوی کچه لوړه شوی. عین حال کی خلک یوشمیر ستونزو یادونه هم کوی چی د عامو خلکو د هغوی حقونو ته د لاس رسی مخنیوی کوی. لکه د قانون حاکمیت نه شتون او عدالت ته نه لاس رسی [دقانون حاکمیت او عدالت برخه وګوری]

ځینی خلکو د بیلګی په توګه نیمروز ولایت کی وویل چی دایو واقعیت دی چی د ښځو حقونو ته احترام نه دی شوی او دا ضروری ده چی دښځوحقونه باید د یوه جلا اولویت په توګه وپیژندلی شی. نارینه او ښځو د ټول هیواد په کچه پوهیدل چی دښځو حقونو ملاتړ او احترام ندی شوی. دکنړ ولایت دعلماو شورا یوغړی په بحث کی دټولو ګډونوالو نظر داسی بیان کړ:

"دا ضروری ده چی دښځو حقونو په هکله فکر وکړو. د دی اړتیا شته چی یو افغانی قانون پلی شی په کوم کی چی ښځی او نارینه حقونو نه د قانون په وړاندی مساوی توګه وړاندی وینه کړی اوسی."

همداشان د ډیرو ګډونوالو نظر یوی ښځینه حقوق پوهی بغلان ولایت کی داسی بیان کړ:

"حکومت ټول افغانانوسره دښځو په ګډون باید چی یوشان چلند وکړی او دوی باید وکړای شی چی دخپل تابعیت حقونو څخه په انفرادی توګه یوشان استفاده وکړی نه د جنسیت، قومیت، یا نژاد پربنسټ. ښځی سره باید د دوهمی درجی اتباعو په شان چلند ونه شی او د دوی شتون په ټولنیزو او سیاسی چارو کی باید دجنسیت پربنسټ سمبولیک نه اوسی. دوی باید چی د ژوند ټولو چارو کی قوی شتون ولری او د بشری حقونو ټولو معیارونو ته د قانون تطبیق کوونکی مسؤلیونو له خوا احترام وشی."

د بحثونو په بهیر کی داجوته شوه چی یوشمیر افغانان پدی نه پوهیدل چی بشری حقونه د دوی او د دوی ټولنی له پاره څه معنی لری. زیات شمیر خلکو دا وویل چی باید افغانانو ته مساوی توګه حقونه تضمین شی پرته له نژاد، جنسیت،او جغرافیوی موقیعت او د ترېوالو په نظر کی نیولو څخه او باید د معیارونو پربنسټ داسلام چتر لاندی وی.

نور خلکو که څه هم وویل چی بشری حقونه د خارج څخه راوړل شوی دی او "دامپریالیزم یو وسیله ده" زمونږ د سنتی فرهنګ سره سمون نلری ولی یوشمیر خلکو بیا وویل چی لازیات عامه پوهاوی له پاره ضرورت شته چی عام خلک او دټولنی متنفذین په ځانګړی توګه لری پرتی سیموکی خلک پوه شی.

نژدی ټولو خلکو چی بحث کی ګډون درلود هلیه څرګنده کړه چی یواځی عدالت او حسابدهی دغه دری لسییزو جنګ ته دپای ټکی ایښودای شی. یوی کوچنی ډلی د ګډونوالو خپل تشویش وښود چی که چیری د تیر وخت جنګی جنایتکاران تعقیب، تحقیق او مجازات شی شاید چی بی ثباتی زیاته او جنګ دوام ومومی. د فراه ولایت د ټولنی یوغړی دا نظر داسی بیان کړ:

"کله چی مونږ تیر جرایمو په هکله عدالت پیل کړو، نشوکولای سولی ته ورسیږو. مونږ شاید تبعیض رامنځته کړو. دلته باید اتحاد واوسی. مونږ نشو کولای تیر جرایم راوکاږو دا شاید چی وضیعت لا پسی خراب کړی."

یوعام نظر شتون درلود چی که څه هم معافیت د هغو له پاره چی په تیر وخت کی یی جدی جرایم ترسره کړی لکه د بشریت ضد جرایم، او بشری حقونو څخه جدی سرغړونی باید عفوه نشی. دبیلګی په توګه دهیواد شمال ختیځو سیمو کی خلکو ټولنیز عدالت ته ترجیح ورکوله او ویل یی چی باید دټول افغانستان په کچه هغوی چی دبشری حقونو جدی سرغړونی کړی باید چی معاف نشی. لوګر ولایت کی خلکو تاکید وکړ چی "ټول جنګسالاران باید مجازات شی." یاد نظر د ټول افغانستان په کچه څرګند شوی.

## IV. څنګه کولای شو چې سوله او بیا پخلاینه تر لاسه کړو

### اړتیا ده چې مخالفین او طالبان د سولی په ټینګیدو کې شامل شی

که څه هم ډیر خلک چې د خلکود خبرو اتروپروګرام کې یې برخه اخستی د سولی د پروسې په شونی بریالیتوب شکمن دی خو عامه توقع داده چې حکومت باید چې د مهمو برخو د بیلګی په توګه امن، د قانون حاکمیت، اقتصادی نیکمرغي او پرمختګ او د بشری حقونو ساتنه او پرمختګ تر څنګ د جګړی د پای ته رسولو او دومداره سولی په لور کار وکړي. د ۱۵۰۰ څخه د ډیرو خلکو چې د خلکو د خبرو اتروپه پروګرام کې یې برخه اخستی وه په دی نظر ؤ چې دا لازمی ده چې مخالفین د طالبانو په شمول د سولی د ټینګیدو په نوښت کې شامل شي. ډیرو دا هم وویل چې د طالبانو ځینی غړی باید د بن کنفرانس ته دعوت شي.

لاندی بیانیی هغه نظریی منعکس کوی چې زښته ډیرو خبرواترو کې وړاندی شوي:

"د دی لپاره چې جګړه په افغانستان کې ودرول شی حکومت باید د مخالفینو سره خبری وکړی او د دوی نظر واخلی. موږ ترجیح ورکوو چې د مخالفینو استازی هم د حکومت د استازو تر څنګ ولرو ، او دا به یواځینی چانس وی ترڅو له دوی سره د سولی او بیا پخلاینی په اړه په ډاګ پیبلی خبری وشي."

[د ټولنی غړی، کندوز ولایت]

" په افغانستان کې ملی بیا پخلاینه یواځینی او د دوامداری سولی وسیله ده. زه د افغانستان له حکومت څخه دا توقع لرم چې یو مشروع حکومت تاسیس کړی ، کوم چې د خلکو لپاره روڼ او ځواب ورکوونکی وی. حکومت

باید اداری فساد او د قانون څخه سرغړونه د حکومت په سیستم کې له ریښوڅخه وباسی . زه له مخالفینو څخه د مسلمانانو په حیث توقع لرم چې د افغانستان د سولې او بیاپخلاینی په پروسه کې شامل شی."
[ د مدنی ټولنی ښځینه غړي، فاریاب ولایت]

که څه هم خلکو وویل چې حکومت باید ټول هغه اړین اقدامات وکړی ترڅو سوله په افغانستان کې راشي، خو دغه اقدمات باید په افغانستان کې د ټولو توکمونو د خلکو د ګټو په اساس وی. دوی همدارنګه وویل چې د طالبانو سره خبرو کی باید د تیری لسیزی لاسته راوړنی، لکه د ښځو د حقونو په برخه کې پرمختګ، ساتنه وشي.

یوشمیر نارینه و او ښځو وویل چې مخالفین په داسی موقف کې ندی چې له حکومت سره مذاکره وکړی - دوی د ولس مشر د دی پالسی څخه چې له پاکستان سره خبری د طالبانو سره خبری دی په کلکه ملاتړ وکړ.

**اړتیا ده چې عام افغانان د سولې په پروسه کې شامل شي**

د هیواد په سطحه خلکو وویل چې حکومت د خلکو ملاتړ ته اړتیا لری تر څو له معنا ډکه او دوامداره سوله تر لاسه شي. یووالی او د حکومت او د افغانستان دخلکو ترمنځ دوه اړخیزه همکاری باندی اصرار وشو.

نارینه وو، ښځو او ځوانانو د ژوندانه د ټولو برخو څخه خپل تعهد په ډاګه کړ چې د سولې لپاره به کار کوی. ژورنالیستانو سهیل ختیځ کې د عامه پوهی په لوړوالی کې د خپلی وندی یادونه وکړه. یوی شاعری او لیکوالي وویل " ددی لپاره چې خلک وهڅول شی چې د سولې په ګټو او د جګړی بدبختیو پوه شی د سولی موضوع په خپلو شعرونو، لنډو کیسو او طنزونو کې ځایوم."
ځوانانو او د ښوونځی استادانو همدارنګه وویل چې دوی کولای شي د سولی موضوع ګانی په ټولګی کې د هیواد په کچه را پورته کړی. څنګه چې یو زده کوونکی په څرګند ډول وویل :

"لوستی خلک په خاصه توګه د پوهنتون محصلین زموږ د ټولنی د ملا تیر جوړوی. موږ تیار یو چې د خپل هیواد په ابادی او د ژوندانه په ټولو برخو کې خدمت وکړو نه تنها سوله او امن. موږ د افغانستان راتلونکی جوړوو."

د کنړ ولایت ، اسعد اباد څخه یو محصل هم په ځوانانو غږ وکړ:

"ددی لپاره چې په ښوونځیو او پوهنتونونو کې دسولی د پروسی په اړه د پوهي کچه لوړه شی او نور خلکو دعوت شی چې په دی پروسه کې برخه واخلی ترڅو د یوی لسیزی لاسته راوړنی له لاسه لاړی نشی نو ځوانان کولای شی چې کمزوری حکومتداری او د قانون د حاکمیت د نشتوالی په اړه خپل اوازونه اوچت کړی ترڅو بشری حقونه د ټولو لپاره تضمین شي. د کار زمینه باید ټولو ته برابره شی په خاصه توګه هغو کسانو ته چې کمزوری اقتصادی حالت لری تر څو هغو د دولت ضد فعالیتونو سره یوځای نشی."

ډیرو خلکو دینی مشران د سولی لپاره د یو کتلیست په توګه په ګوته کړل. یو کاریګر د پکتیکا ولایت څخه ویلی " موږ یو عنعنوی او دینی ټولنه لرو. موږ په ښه شان د علماو خبرو ته غوږ نیسو. که دوی د سولی په اړه خبری کوی دا ډیری موثری دی."

دینی او قومی مشرانو خپله تیاری ښودلی چې دوی کولای شي په فعاله توګه د سولی په پروسه کې برخه واخلی او د ټولنی د راز راز برخو ترمنځ پل جوړ کړی ترڅو مخالفینو او لوستی خلکو ته د سولی د مفهوم په اړه پوهه ورکړی. د پلخمری څخه یوه عالم وویل:

"هغوی [ دینی مشران] په اسانی سره کولای شی دا اوسنی حالت بدل کړی او خلک وهڅوی ترڅو د سولی په پروسه کې ګډون وکړی. دوی همدارنګه د خپل نفوذ څخه په ګټه اخستنه کولای شی چې خپلو پیروانو په خاصه توګه هغه چې په جګړه بوخت دی لارښوونه وکړی چې جګړه ودروی او یوبل ته ښښنه وکړی. په دی توګه موږ کولای شو ملی یووالی د هیواد په کچه ترلاسه کړو."

په ځینو مباحثوی ګروپونو کې چې په سهیلی سیمو کې په لاره اچول شوی وو یو شمیر نارینه و ویلی چې تنها نړیواله ټولنه کولای شی چې سوله راولی. دا نظر په ټول هیواد کې عام نه دی.

په ځینو نورو سیمو کې خلکو ویلی چې دوی تیار دی چې د سولی مذاکراتو ملاتړ وکړی مګر دوی یادونه کړی چې دغه وظیفه په تیر کې له خطره ډکه وه. د کنړ ولایت د دانګام ولسوالی یو قومی مشر تایید کړی چې د هغه ټولنه تیاره ده چې د سولی په ټینګولو کې مرسته وکړی ولی موږ د حکومت ملاتړ ته اړتیا لرو. موږ کولای شو چې د طالبانو سره خبری وکړو ولی نړیوال ځواکونه او حکومت دا نه غواړی. موږ پخوا هڅه وکړه چې په نتجه کې ځنی قومی مشران ونیول شول. حکومت به موږ ونیسی ژر وروسته تردی چې موږ طالبان د سولی لپاره دعوت کړو."

یو شمیر خلکو د دینی او قومی مشرانو د مهمی ونډی په هکله ویلی، چې دوی کولای شی د سولی په خبرو کې ونډه واخلی خو دوی د دی هم یادګیرنه کړی چې دوی ته د حکومت لخوا دا صلاحیت ندی ورکړ شوی او د مخالفینو د ترور د تهدیدونو په وړاندی دوی د حکومت ملاتړ ته اړتیا لری.

د هیواد په کچه خلک دا نظر لری چې ملی یوالی د سولی لپاره یو لازمی اړتیا ده او د خلکو په فعاله ونډه اخستلو سره را تلای شی.

**اړتیا ده چې ښځې د سولی په پروسه کې شامل شی او د ښځو د حقونو ساتنه وشی**

ښځو وویل چې دوی له ماشومانو سره یوځای د یوه اسیب پذیره ګروپ په توګه په روانه شخړه کې ترټولو لوړه قربانی ورکوی. ښځې په دی نظر دی چې دوامداره سوله تر هغو نشی راتلای ترڅو ښځې د سولی د پروسی په ټولو برخو کې فعاله ونډه وانخلی. د ننګرهار ولایت یوه ښځینه استاده د ښځو ډیریدونکی برخه اخستنه په عامه ژوند کې د سولی لپاره د یوی ممکنه لاری په توګه یاد کړی:

> "کله چې ښځې د ذده کړی خاوندی شی او د ولایتی شورا، ولسی جرګی، مشرانو جرګی، او حتی د حکومت د مامورینو، برخه شی دوی کولای شی چې د سولی پروسه تقویه کړی."

ډیر نارینه او ښځې باور لری چې ښځې د سولی لپاره ډیر څه کولای شی. د لغمان ولایت د مهترلام ولسولی د معیوبینو د حقونو د اداری مشر وویل:

> "د پښتنو په کلتور کې د ښځو ونډه اخستنه په ټولو موضوع ګانو کې په خاصه توکه کله چې دوی حریفی ډلی په جګړه وی قبول شوی دی. ښځې منځګړتوب کوی او سم دلاسه په اور بند موافقه کوی. افغان ښځې په جنګ کې د زړه ورو کړنو تاریخ لری."

یو شمیر ښځو همدارنګه تیاری ښودلی چې دوی کولای شی د سولی له پروسی سره په خپلو کورنیو کې مرسته وکړی. د کنړ ولایت څخه یوی ښځینه استادی وویل:

> " که چیرته ښځې د سولی له پروسی څخه په ښه شان خبری شی او د سولی د پروسی په کمپاین که برخه واخلی، دوی کولای شی چې خپل بچیان، میړونه او د کورنی نور غړی قانع کړی چې جنګ پریږدی او مخالفینو له ملاتړ څخه لاس واخلی تر څو سوله تامین شی."

یوه ښځینه زدکوونکې د فیض اباد، بدخشان ولایت ، څخه پدی ټینګار وکړ چې ښځې په عامه توګه مګر لوستی ځوانی ښځې په خاصه توګه کولای شی د سولی پروسی سره مرسته وکړی. دغه مرسته کیدای شی د ښځو په عامه، ټولنیزو او سیاسی چارو کې ګډون او برخه اخستنه او خپلو کورنیو ته د سولی د مفهوم بیانول وی.

د جلال اباد ولایت څخه د ځوانانو د ټولنی یوی ښځینه غړی زیاته کړه " هر یوی باید د ملی یوالی او د سولی د پیغام شریکولو کې سخت کار وکړی . که هر یو دغه پیغام لږ تر لږه یوه تن ته ورسوی او له هغه یا هغی څخه وغواړی چې دغه شان کار وکړی، پدی توګه موږ کولای شو ډیرو خلکو ته ورسیږو." ګډوون کوونکو ورته نظر په بی شمیره خبرو اترو کې د هیواد په کچه څرګند کړ.

دوی همدارنګه د طالبانو د ګډون اهمیت د یو باثباته حل لاری په توګه څرګند کړ خو د ښځو لاسرسی ښوونی او روزنی ته او عامه توګه کار کولو په اړه یې اندیښنه په ډاګه کړه. زیاتو ښځو په دی ټینګار وکړ چې مذاکرات او د طالبانو ګډون باید دغه حقونه او هغه لاسته راوړنی چې په تیرو کلونو کې تر لاسه شوی متاثره نکړی.
یوی ښځینه شاعري د کندهار ولایت څخه وویل:

"طالبان باید د بن د کنفرانس برخه وال وی مګر دا باید یقینی شی چې د ښځو تعلیم غښ ملاتړ کیږی. دا ډیره مهمه ده چې ښځې او د افغانستان خلک د تعلیم حق، کار، د بیان د ازادی، او نور سیاسی او مدنی حقونه د ملی او نړیوالو قوانینو له مخی ساتنه وشی".

د هیواد په کچه نارینه و او ښځو وویل چې له طالبانو سره باید د ښځو د حقونو اړونده موضوعاتو په اړه معامله ونشی— د ښځو د تعلیم حق باید ساتنه وشی. ښځې باید پریښودل شی چې کار وکړی، عامه چارو کې برخه واخلی او د خوځیدنی حق ولری.

**د سوله کوونکو کیفیت: بی پری، رښتونی، خپلواک، د سولی په اړه د معلوماتو لرونکی، نه جنګ سالاران**

زښت ډیرو نارینه و او ښځو چې د خلکو په خبرو اترو کې یی برخه اخستی ده ویلی هغه اشخاص چې د سولی په پروسه کې شامل دی باید بې طرفه، رښتونی، د درناوی وړ، د سولی په هکله باخبره، خپلواک ـ د پردیو هیوادونو اجنټان نه وی ـ په خپله سیمه کې د نفوذ خاوندان او له ستونزو څخه یې با خبره وی.

په مکرره توګه په دی ټینګار شوی هغه کسان چې په پروسه کې شامل دی باید د ټولنی د قانونی استازو په توګه وپیژندل شی او دوی باید د قانون د حاکمیت درناوی وکړی. ډیرو په دی ټینګار وکړ چې تمرکز باید تنها د کابل په سطحه نه وی بلکه د ولایتونو اوسیدونکو ته هم برخه ورکړل شی. یو شمیر خلکو د زورواکا نو، مجرمینو، فاسدو چارواکو او هغو چې لاسونه یی په وینو سره وی، په ګډون شدید مخالفت څرګند کړاو د افغانستان په اړه د بن په لومړی کنفرانس یی نیوکه وکړه چې جنګ سالارانو ته پکې برخه ورکړل شوی وه.
په سهیلی سیمو کې یو شمیر نارینه و شکایت وکړ هغه کسان چې اوس د سولی په پروسه کې شا مل دی د ناامنی په دوام کې خپلی ګټی ګوری.

"موږ هغه کسان غواړو چې د هغو لپاره سوله مهمه وی ترڅو د سولی په پروسه که شامل شی، نه هغه کسان چې هغوی باید عدالت ته راښکل شی، کله چې سوله راشی. کوم کسان چې اوس د سولی په پروسه کې شامل دی د هغوی لپاره نا امنی داسی مهمه ده لکه ماهی ته اوبه."

د زابل په ولایت کې د خبرو اترو په یو ګروپ کې چې له نارینه و او ښځو څخه تشکیل شوی و دا نظریه وړاندی شوه:

"هغه کسان چې لاسونه یې د بی ګناه ملکیانو په وینو سره دی، هغه کسان چې هغه په تیر کې مجرمین و په حکومت کې غټی چوکی نیولی لکه وزیران، سناتوران، والیان او په حکومت کې نور غښ چارواکی. د سولی په پروسه کې باید دغه یقین تر لاسه شی چې دغسی کسان باید هیڅ ونډه ونه لری." دغه نظریه د هیواد په سطحه په خبرواترو کې مطرح شوی ده. ډیر شمیر افغانانو همدارنګه یادونه کړی چې ښځی باید د سولی په پروسه کې له نارینه و سره برابره ونډه ولری."

څنګه چې ډیر افغانان دا احساس کوی چې ناوړه امنیتی حالت، سیاسی ناکراری، فقر ،د قانون د حاکمیت او عدالت نشتوالی ـ اداری فساد، بی کفایتی او د جنګ سالارانو، قومندانان او هغو فاسدو کسانو چې اوس د حکومت کلیدی پستونه لری منسوب کیږی . افغانان ټول په یوه کلک غږ دی چې ددی لپاره چې په افغانستان کې دوامداره سوله راشی د سولی په پروسه کې د داسی کسانو ونډه باید کمه شی. د هرات ولایت شیرداد ولسوالی یو تن قومی مشر نظر د هیواد په کچه نظریات منعکس کوی:

"افغانان په دی باور دی هغه خلک چې ۳۰ کاله تجربه په وژنو، د خلکو په کړاونو او ناوړه ګټه اخستنه کې لری تر څو خپل قدرت وساتی باید د سولی په پروسه کې شامل نشی. هغه کسان چې په قدرت کې دی د هغوی په اړه باید حساب ورکونه وشی چې ولی دوی ډیری پیسی لری؟ موږ په افغانستان کې ټولنیز عدالت نه لرو، دغو خلکو ته وګوری چې دوی د عامو افغانانو څخه څومره پیسی اخستی دی.

ز ه فکر کوم که چیرته دغه خلک په اوسنی نظام کي پاته شي، موږ به هیڅکله سوله ونلرو. ځکه هغه خلکو چي دا نظام جوړ کړی هم هغوی اوسنی حالات په افغانستان کي را منځته کړی. دوی نشی کولای د سولی پروسه په هیواد کي په مخ بوځی."

## 7. پایلی او د خلکو وړاندیزونه

د خلکو ډیالوګ نه موخه داده چي د عامو افغانانو، نارینه و، ښځو او ځوانانو غږ واوریدل شی او په افغانستان کي د دایمی سولی په پلانونو کي ځای ورکړ ل شی. څنګه چي په دی راپور کي یادونه شوی، یوه انحصاری پروسه چي په هغه کي د افغانانو نظرونه واوریدل شي او په پروسه کي چي د خلکو ژوند متاثره کوی شامل شی دا به خلکو ته قدرت ورکړی او دوی به د خپل هیواد په راتلونکی کي شامل شی. افغانانو د دی خبرو اترو د پروګرام تنظیم کوونکو ته وویلی چي دا لومړی ځل ؤ چي له دوی څخه پوښتنه وشوه چي د هغو مهمو موضوعاتو په اړه چي ددوی ژوند متاثره کوی نظر ورکړی: سوله، امن، اوخلکوته د حکومت حساب ورکونه .

د حساب ورکونی نظر او د عامو افغانانو غوښتنه چي هغه فاصله چي د دوی او حکومت ترمنځ پرته ده لنډه شی محسوس شوی. ډیرو ګډون کوونکو غوښتنه در لودله چي دوی غواړی د سولی په موضوعګانو او د فساد په وړاندی مبارزه کي شامل شی. نارینه و او ښځو په ډاګه کړه چي د پراخه یوالی،د ټولو توکمونو د حقونو او ازادیو ښه خوندیتوب ،په ټولنه کي د نارینه و او ښځو د حقونو برابر والی او برخه اخستنی ته اړتیا ده.

ګډون کونکو لیوالتیا وښودله چي نړیواله ټولنه خپل جوړونکی نقش ته ادامه ورکړی. د سولی پروسه، د افغانستان کلیو اوښارونو له پرمختګ سره مرسته وکړی او د هغو مرستو په اړه چي دوی یی چمتو کوی حساب ورکونه غښتلی کړی. دو وویل چي نړیوالی ټولنی د سولی په پروسه کي د ګاونډیانو د مداخلی د مخنیوی او د جګړی پای ته رسولو کي کلیدی نقش درلود.

افغان ښځو او نارینه و یادونه وکړه چي دوی د مدنی ټولنی لپاره هم ونده ګوری. اړتیا ده چي فعالین د حساب ورکونی، امن، سولی اود ټولنی په وړاندی د فساد، تبعیض او ځور په اړه په لوړ اواز خبری وکړی. د خلکو د خبرو اترو پروګرام د مدنی ټولنی لپاره د لومړنی قدم په توګه وپیژندل شو چي له خلکو سره فعالانه توګه مشوری وکړی او خپلی نظریی د سولی او د افغانستان د راتلونکی په اړه ورکړی.

د خلکو خبری اتری پروګرام کي لاندی وړاندیزونو سپارښتنه وشوه تر څو راتلونکی خبری اتری پیاوړی شی او د افغانانو اندونه منعکس شی:

### د خلکو سپارښتنی

#### د افغانستان اسلامی جمهوری دولت ته

- د سولی یوه انحصاری پروسه په مخ بوتلل شی: یقنین تر لاسه شی چي یو داسی میکانیزم په لاره واچول شی تر څو د هغه په واسطه د عامو افغانانو، نارینه و، ښځو او ځوانانو نظریی واخستل شی او د دوامداری سولی او امن د تر لاسه کولو په پلانونو کي ځای ورکړل شی.
- له مدنی ټولنی څخه ملاتړ وشی تر څو د حکومت او خلکو تر منځ واټن کم شی: د مدنی ټولنی هغه پروګرامونه چي د سولی او امن پوری تړلو موضوعاتواو بشری حقونه [ د ښځو حقونه او توکمیز لیږکی حقونه] پوری وی ملاتړ وشی. د هغه پروګرامونو ملاتړ وشی چي د هغه په واسطه د عامو افغانانو نظر واخستل شی تر څو مدنی ټولنو ظرفیت لوړوشی.
- د ملکیانو ساتنه: د نړیوال بشر دوستانه قانون له مخی افغان امنیتی ځواکونه هڅه وکړی تر څو د ملکیانو د تلفاتو مخنیوی وکړی او محدود یی کړی. او هغه اقدامات تر لاس لاندی ونیول شی چي عملیات په ډیره حساسه توګه تر سره کیږی چي د افغانانو ځرکتیا او دوديز ارزښتونه په نظر کي نیسی.

- د سولی د تر لاسه کولو هڅی ګړیدی کول: مخالفین د طالبانو په شمول د سولی د راوستلو په هڅو کې شریک شی، دا یقینی شی چې ټولی هڅی د افغانانو، نارینه و، ښځو او ځوانانو په ګټه دی. یقین تر لاسه شی چې د سولی پروسه د افغانانو لخوا پرمخ بیول کیږی.
- دا یقینی کول چې ښځې د تصمیم نیونی په ټولو مکانیزمونو کې چې په افغانستان کې د سولی د پرمخ بیولو او ملاتړ لپاره تاسیس شوی غړیتوب لری.
- یوه ملی وسیع پروژه په لاره واچول شی تر څو د ناامنی ریښی تثبیت شی.
- په افغانستان کې د سولی د خوندیتوب لپاره یوه متحده ستراتیژی چې واضح اهداف او د ټولو ذیدخلو غاړو تعهدات ولری جوړه شی، چې هغه په امن، اقتصادی ودی، د قانون حاکمیت، عدالت او بشر حقونو د با ثباته سولی د مهمو برخو په توګه تمرکز ولری.
- د اداری فساد د محوه کولو لپاره چې خپریدونکی تشویش دی، او امن، اقتصادی وده او یواځنی فرصتونه متاثره کوی نوښتونه تر لاس لاندی ونیول شی. د قانون او عدالت تطبیق کوونکی ارګانونو ته په خاصه توګه د یو اړین لومړیتوب ورکړل شی. اساسی اصلاحات رامنځته شی او ظرفیت لوړ کړل شی. هغه کسان چې له خپل واک څخه ناوړه ګټه پورته کوی او په فساد کې ښکیل دی له دندو لیری شی.
- د قانون تطبیق کوونکی ادارو په ښاری او لیریو پرتو سیمو کې تمر کز وشی او هغه پروګرامونه په لاره واچول شی چې د قانون له تطبیق او د ښځو د حقونو د ساتنی او ودی سره مرسته وکړی.
- د افغان ملی ځواکونو د ظرفیت لوړولو ته لومړیتوب ورکړل شی، د ځواکونو او مشرتابه ظرفیت لوړ شی او مشر تابه باید حساب ورکوونکی وی.
- متوازنه پراختیا یقینی شی، او په ښارونو او لیرو پرتو سیمو چې د افغانستان ټول توکمونه رانغاړی تمرکز وشی. هدفمنده پراختیا د خدمتونو د وړاندی کولو په اساس چې صحت او ښوونه او روزنه پکی شاملیږی ترسره شی. د مرستو اغیزمنتیا باید د کیفیت له مخی ترسره شی نه د کمیت له مخی. د ټولنو د اړتیاوی په اساس بنیادی پراختیاوی په لیرو پرتو سیمو کې ترسره شی.
- ټولی مذاکری او هڅی چې د باثباته سولی لپاره ترسره کیږی باید په هغه کې د بشری حقونو ارزښتونه په نظر کې ونیول شی. دبشری حقونو په اړه چې کوم پرمختګونه شوی په خاصه توګه د افغان ښځو او انجونو حقونه تضمین وشی او سولی د پروسی قربانی نشی.
- دا یقینی کول چې د جنګی او بشریت ضد جرمونو مرتکبین او د بشری حقونو سرغړونکی عدالت ته راښکل شی نه دا چې معافیت ورکړل شی. د افغانستان حکومت باید دا یقینی کړی چې هر هغه پلان چې د سولی او بیا پخلاینی لپاره نیول کیږی باید هغه لاری چاری چې د هغه په واسطه په افغانستان کې د ټولو وختونو د جګړو په اړه حقایق رابرسیره کړی درلودنکی وی. او دا باید د افغانانو په خاصا توګه د جګړی د قربانیانو د اړتیاوو او غوښتنو په اساس وی.
- دا یقینی کول چې ټول هغه اشخاص چې د سولی په پروسه کې شامل دی د ښځو په شمول د ټولنی قانونی استازی دی او دغه استازی خپلواک او بی طرفه دی او دافغانستان په جګړو کې ښکیل نه ؤ.

**نړیوالی ټولنی ته**

- ددی لپاره چې د نړیوالی ټولنی، حکومت او خلکو ترمنځ واټن لږ شی نو نړیواله ټولنه د افغانستان اسلامی جمهوری دولت سره مرسته وکړی ترڅو پورته ذکر شوی سپارښتنی عملی کړی .
- له مدنی ټولنی څخه ملاتړ وشی تر څو د حکومت نړیوالی ټولنی او خلکو تر منځ واټن کم شی: د مدنی ټولنی هغه پروګرامونه چې د سولی او امن پوری تړلو موضوعاتواو بشری حقونو [ د ښځو حقونه او توکمیزو لیږکیو حقونه] پوری اړه ولری ملاتړ وشی. د هغه پروګرامونو ملاتړ وشی چې د هغی په واسطه د عامو افغانانو نظر واخستل شی تر څو مدنی ټولنو ظرفیت لوړ شی.
- د دی یقین تر لاسه کول چې د افغانانو غږ اوریدل کیږی او د تصمیم نیونی په ټولو بحثونو کې د بن کنفرانس په شمول منعکس کیږی. عامو افغانانو ته واک ورکړل شی چې د سولی په پروسه کې برخه واخلی.

- د ملکیانو ساتنه: د نړیوال بشر دوستانه قانون له مخی افغان امنیتی ځواکونه هڅه وکړی تر څو د ملکیانو د تلفاتو مخنیوی وکړی او محدود یې کړی. او هغه اقدامات تر لاس لاندی ونیول شی چې عملیات په ډیره حساسه توګه تر سره شي چې په هغه کې د افغانانو حساسیتونه او دودیز ارزښتونه په نظر کې ونیول شی.
- د ډیپلوماتیکو هڅو ډیرول تر څو دا یقنی شی چې ګاونډیان د افغنستان په داخلی چارو کې مداخله نکوی، په خاصه توګه پاکستان باندی فشار راوړل شی چې مخالفینو ته پټنځایونه او ملاتړ ورکول ودروی.
- دا ډاډه کول چې د بسپنی مرستی مسحقو کسانو ته رسیږی: د مرستی پروګرامونه باید په لیرو پرتو سیمو باندی متمرکز شی. دا ډاډه کول چې د مرستی پروګرامونه معکوسی پایلی نه لری- لکه د جګړی اور تودول یا توکمیز بیلونی. د مرستو اغیزمنتیا باید د کیفیت له مخی ترسره شی نه د کمیت له مخی. د ټولنو د اړتیاوی په اساس بنیادی پراختیاوی په لیرو پرتو سیمو کې ترسره شی. مناسب میکانیزمونه تر لاس لاندی ونیول شی چې د بسپنی مرستی نه ناوړه ګټه نه پورته کیږی او هغه کسان چې له دغو مرستو څخه ناوړه ګټه پورته کوی باید له خپلو پستونو څخه وشړل شی.
- په افغانستان کې د سولی او بیا پخلاینی لپاره یوه روښانه لرلید رامنځته شی چې د نړیوالی ټولنی ټول غړی چې په افغانستان کې ښکیل دی د لرلید پیروی کوی . دلته باید سیالی ونړ ګټی او اجنډاوی نه وی.
- ټولی مذاکری او هڅې چې د باثباته سولی لپاره ترسره کیږی باید په هغه کې د بشری حقونو ارزښتونه په نظر کې ونیول شی. دبشری حقونو په اړه چې کوم پرمختګونه شوی په خاصه توګه د افغان ښځو او انجونو حقونه تضمین وشی او سولی د پروسی قربانی نشی.
- دا یقینی کول چې ښځی د تصمیم نیونی په ټولو مکانیزمونو کې چې په افغانستان کې د سولی د پرمخ بیولو او ملاتړ لپاره تاسیس شوی غړیتوب لری.
- دا یقینی کول چې ټول هغه اشخاص چې د سولی په پروسه کې شامل دی د ښځو په شمول د ټولنی قانونی استازی دی او دغه استازی خپلواک او بی طرفه دی او دافغانستان په جګړو کې ښکیل نه ۆ.
- د سولی په پروسه کې دا یقینی کول چې د جنګی او بشریت ضد جرمونو مرتکبین او د بشری حقونو سرغړونکی عدالت ته راښکل شی نه دا چې معافیت ورکړل شی.

**مسلح مخالفینو ته**

- د ملکیانو ساتنه---د جګړی د قانون درناوی کول، ملکیان ، د اوسیدو سیمی ، مذهبی ځایونه، روغتونونه او ښوونځی په نښه نشی. د ترور کمپاین باید ودرول شی.
- د افغانستان له حکومت سره د سولی خبرو اترو ته کښینی تر څو یوه باثباته سوله رامنځته شی.
- د افغانستان خلکو – ټول توکمیز ګروپونه، نارینه، ښځی او ځوانان -- هیلو، تشویشونو او ستونزو ته غوږ ونیسی.
- د ټولو افغانانو بشری حقونو ته باید درناوی وکړی---په خاصه توګه د هلګانو او انجونو برابر د تعلیم ټولیز حق.

**د افغانستان مدنی ټولنی ته**

- د حکومت او د ولس تر منځ د پل په څیر کار کول- د خلکو د پوهاوی لپاره د سولی او امنیت په اړه پروګرامونه چمتو والی – په شمول د بشری حقونو [ د ښځو حقونه ، او توکمیز لږه کی ] د داسی پروګرامونو نوښت چی عادی افغانانو نظر وغواړی او داسی نوښتونو ملاتړ وکړی چی موخه یی د سیمه ییزو ظرفیتونو لوړول وی.
- د عادی افغانانو غږ پورته کول- ډاډ ورکول چی د نارینه ، ښځو او ځوانانو نظرونه په سم ډول رسول کیږی او هره هغه غونډه کی ، په شمول د بن کنفرانس ; منعکس کیږی چی موخه یی په افغانستان کی تل پاتی سوله وی . د هیواد په کچه د خلکو سره خبری تر سره شی چی په ځانګړی توګه لری پرتو سیمو کی ښځو او ځوانانو ته ډیر پام واړوی .

- د ملکی خلکو ساتنی ملاتړ د دی ډاډ ورکول چی په جنگ کی ښکیلی خواوی بشر دوستانه قانون سره سم چلند وکړی –
- ددی ملاتړ کول چی جگړه پایی ته ورسیږی او د مخالف وسلوالو سره خبری تر سره شی.
- ټولی مذاکری او هڅی چی د باثباته سولی لپاره ترسره کیږی وڅارل شی چی د بشری حقونو لاس ته راوړنی د ښځو د حقونو په شمول ساتنه په نظر کې ونیول شی . د دی ډاډ ورکړل شی چی په افغانستان کی د تل پاتی سولی د لاس ته راوړو په موخه ،بشری حقونه قربانی نه شی . د سولی په اړه پلان باید د بشری حقونو په نظرکی نیولو او د خلکو اړتیاو او گټو سره سم پر مخ بوتلل.
- د سولی پروسی وڅارل شی او د هغه نوښتونو ملاتړ وشی چی له امله یی دا یقینی کیږی، چې ټول هغه اشخاص چې د سولی په پروسه کې شامل دی د ښځو په شمول د ټولنی قانونی استازی دی او دغه استازی خپلواک او بی طرفه دی او دافغانستان په جگړو کې ښکیل نه ؤ .
- د سولی د پروسی نه کتنه او ملاتړچی په پروسه کې دا یقینی شی چې د نړیوال معیارونو سره سم جنگی او بشریت ضد جرمونو مرتکبین او د بشری حقونو سرغړونکی عدالت ته راښکل شی نه دا چې معافیت ورکړل شی.
- د سیمه ییزی سولی راوستلو د نوښت ملاتړکول—په سیمه کې د مدنی ټولنی سره پراخه گډه مرسته او ملاتړ وشی تر څو یوه مؤثره سیمه ییزه مدنی ټولنه رامنځته شی .په سیمه ییزه کچه د عامو خلکو نظرونه د سولی، ثبات پوری تړلو موضوعگانو په اړه واخستل شی .د دی ډاډ تر لاسه شی چې په سیمه ییزه کچه د خلکو نظرونه،اندیښنی، ستونزی ،شکایتونه او هیلی یوله بل سره شریک کیږی.